پۀ 12 نومبر، كال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 01 جمادي الاخري ، كال 1448ھ) د پاكستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو كښې كېدونكے بيان

كله چې به دوزخ راوړے كېږي

(د دوزخ تعارف، د حَشر مېدان ته د راوستو او د دوزخ نه د نجات ورکوونکو اعمالو بيان)

پۀ دې بيان كښې به تاسو زده كړئ...

- ــــ دوزخ څۀ شے دے--- څنګه دے؟
- ــــ د دوزخ غړمبېدل
- ــــ غرونه به پۀ زمكه ننوځي
- ــــ د دوزخ نه نجات وركوونكي اعمال

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

د دُرُودِ پاک فضیلت

د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ مِائَةً، كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: بَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ، وَبَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ، وَاَسْكَنَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الشُّهَدَاءِ

ترجمه: چا چې په ما باندې 100 کرته درودِ پاک ولوستو، د هغه د دواړو سترګو ترمینځه لیکلے کېږي چې دے د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او د قیامت په ورځ به هغه د شهیدانو سره ساتلے شي۔ [1]

نبی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو | محبّو! پاؤ گے جنت میں گھر درود پڑھو
بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے محسن پر | سدا سلام کہو عمر بھر درود پڑھو [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...معجم صغیر، صفحه:625، حدیث:899۔

[2]...نورِ ایمان، صفحه:56و57 ملتقطاً۔

د بيان اورېدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ [1]

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اورېدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❖ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❖ پۀ اَدب به کښېنم ❖ ښه پۀ توجُّه به بيان اورم ❖ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

کله چې به دوزخ راوړے کېږي

د صحابئ رسول حضرت اَبُو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، يو ځل رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان هم حاضر وو۔ پۀ دې کښې پۀ هغوئ باندې د وَحي د نازلېدو حالت شو۔ (صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان پۀ ادب سره اِنتظار شروع کړو چې اوس به کوم نوي آيتونه نازلېږي)۔ څنګه چې وَحي پوره شوه، د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رنګ مبارک بدل شو، د غم د سخت والي نخښې پۀ مخ مبارک باندې پۀ نظر راتلل شروع شوې۔

د دې حالت مبارک پۀ ليدلو سره صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان پريشانه شول۔ عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! څۀ معامله ده، وه يې فرمائيل: جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام

---

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

ما له څۀ آيتونه راوړي دي چې الله پاک فرمائي:

وَ جِایْٓءَ یَوْمَىٕذٍۭ بِجَهَنَّمَۙ۬ یَوْمَىٕذٍۭ یَّتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ وَ اَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ﴿۲۳﴾

(پارہ:30، سورۂ فَجر :23)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ العِرفان: او په هٰغه ورځ به دوزخ راوړے كېږي، په هٰغه ورځ به اِنسان سوچ كوي او اوس [په ورځ د قيامت] د هغه د پاره د سوچ وخت كوم دے؟-

مولي علي شير خدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دوزخ به د قيامت مېدان ته څنګه راوړے كېږي؟ وه يې فرمائيل: دوزخ ته به 70 زره واګې اچولے كېږي او هر واګے به 70 زره فرښتې راښكي- كه چرې فرښتې هٰغه واګې پرېږدي نو دوزخ به د ټول محشر والا وسوزوي-

په روايت كښې دي: هٰغه وخت كله چې به دوزخ راوړے كېږي نو هٰغه وخت به هغه د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت مبارک كښې عرض كوي:

مَالِیْ وَلَكَ یَا مُحَمَّدُ ! اِنَّ اللّٰہَ قَدْ حَرَّمَ اللّٰہُ لَحْمَكَ عَلَیَّ

ترجمه: اے مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو زما سره څۀ تعلق---!! بے شكه الله پاک ستاسو وجود مبارک په ما باندې حرام كړے دے-

بس هٰغه وخت به د مېدان محشر حالت دا وي چې ټول به نفسي نفسي (ماته خپل فكر دے،ماته خپل فكر دے) چغې وهي او رسولِ ذِيشان، مكي مَدَني سُلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اُمتي اُمتي فرمائي-

تمہارا نام مصیبت میں جب لیا ہو گا | ہمارا بگڑا ہوا کام بن گیا ہو گا
کسی کے پاؤں کی بیڑی یہ کاٹتے ہوں گے | کوئی اَسیر غم اُن کو پکارتا ہو گا
کوئی کہے گا دُہائی ہے یارسول اللہ! | تو کوئی تھام کے دامن مچل گیا ہو گا
کسی کو لے کے چلیں گے فرشتے سُوئے جحیم | وہ اُن کا راستہ پھر پھر کے دیکھتا ہو گا
کہیں گے اَور نبی اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِیْ | مرے حُضُور کے لَب پر اَنَا لَهَا ہو گا
میں اُن کے در کا بھکاری ہوں فضل مولیٰ سے | حسنَ فقیر کا جنّت میں بسترا ہو گا[1]

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!

دوزخ څۀ شے دے---؟ څنګه دے؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! جهنم کوم ته چې دوزخ هم وئیلے کېږي، د دې سوچ هم بوږنونکے دے ❖ دا وور دے، د کوم لـمبې چې به د لوئي لوئي اوښانو پۀ شان اوچتې اوچتې الوځي ❖ د دې وور داسې سخت دے چې کاڼې به هم وِیلې کوي ❖ د دې دُنیا وور د دوزخ د وور 70 حصه ده [2] ❖ د جهنم وور دومره ډېر سخت دے چې که دوزخ چرې د ستنې د سورې همره پرانستے شي نو ټول د زمکې والا به د دې د ګرمۍ نه مړه شي ❖ که چرې د دوزخ د زنځیر یوه کړۍ د زمکې پۀ غرونو باندې کېښودے شي نو وِیلې به شي او پۀ زمکه به دننه شي ❖ پۀ دوزخ کښې مختلفې وادۍ[درې] دي او طبقې (یعنې درجې) دي ❖ هلته د اوسپنې داسې څَټَکونه دي چې که پۀ زمکه باندې کېښودے

---

[1]...ذوقِ نعت، صفحه:5451ملتقطاً۔

[2]...بخاری، کتاب بدء الخلق، باب صفة النار و انها مخلوقة، صفحه:835، حدیث:3265۔

شي نو ټول اِنسانان او پيريان به د دې يو ځَټَک هم اوچت نۀ کړے شي[1]، پۀ داسې وزن دارو څټکونو باندې به فرښتې دوزخيان وهي ❖ هلته به د خچرو پۀ شان غټ غټ لړمانان ❖ داسې زهريله ماران وي چې يو ځل ټَک درکړي نو د 40 کالو پورې به تکليف نۀ ځي[2] ❖ دوزخيانو له به سختې خوټکيدلې اوبه د څښلو د پاره ورکړے کېږي، څنګه چې به يې خُلې ته نزدې کوي نو د مخ خرمن به راوځيږي او پۀ هغې کښې به پريوځي -

دوزخ چرته دے---؟

صحابئ رسول حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما فرمائي: جَنَّت پۀ اوؤم اسمان کښې دے او دوزخ د اوؤمې زمکې لاندې دے۔[3]

د دوزخ ميدان محشر ته د راوړلو وحشت ناک منظر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا وحشت ناک مقام کوم ته چې دوزخ وئيلے کېږي، آه! کله چې به مېدان محشر ته راوړلے کېږي، هغه وخت به څۀ عجيبه غوغا وي- وړومبے خو وګورئ چې مېدان محشر پخپله هم ډېر د وېرې نه ډک دے، آه! هٰغه وخت چې کله به شپېلۍ پوک وهلے شي ❖ ټول کوم چې به پۀ قبرونو کښې وي ❖ څوک چې سبزلے شوے وي او ايره يې پۀ هوا کښې الوځولے شوې وي يا ❖ پۀ اوبو کښې بهيولے شوې وي ❖ څوک

---

[1]...مسند امام احمد، مسند ابی سعید خدری، جلد:5، صفحہ:76، حدیث:11537۔

[2]...مسند امام احمد، مسند الشامیین، حدیث عبد اللہ بن الحارث...الخ، جلد:7، صفحہ:296، حدیث:18184ملتقطاً۔

[3]...صفۃ الجنۃ لابی نعیم، ذکر مکان الجنۃ و قرارہ، جلد:1، صفحہ:153، رقم:132 ملتقطاً۔

چې ځناورو خوړلي وي ❖ څوک چې سمندر ته غورځېدلے وي او د مهيانو خوراک جوړ شوے وي، غرض چې څوک په کوم کوم ځائے کښې وي، ټول به په يوه چغه بيا راژوندي کړے شي ❖ زمکه به د اوسپنې کړے شي ❖ اسمان به راغونډ کړے شي ❖ نمر به د يو ميل په فاصله باندې کړے شي ❖ وور به وروي ❖ خلق به ښپې ابله ښپې په توده سره شوې زمکه باندې ولاړ وي ❖ قهر سره به مخامخ وي ❖ د حساب وخت به وي، وېره به په زړۀ کښې وي ❖ د پرېشانۍ نه به دماغ بے حاله وي ❖ زړونو به درزيږي چې پته نۀ لګي اوس به زمونږ په باره کښې څۀ فېصله کيږي، په دې کښې به د دوزخ د راوړلو حُکم اوکړے شي---!!

آه! صرف د يو تصور جوړولو د پاره عرض کووم؛ چرته په ماشومتوب کښې داسې شوي وي چې زمونږ نه څۀ لويه غلطي شوې وي، والِد صاحب مو راوغواړي، پوښتنه کوي چې تا داسې ولې اوکړه؟ هٰغه وخت زړۀ درزيږي چې اوس به بابا جان پته نۀ لګي چې څۀ سزا راکوي، په دغه وخت کښې يوه پېړه چوکه [يعنې لخته] راوړے شي، بابا جان له په لاس کښې ورکړے شي، سوچ اوکړئ چې د ماشوم په زړۀ باندې به هٰغه وخت څۀ تېرېږي، اګر که بابا جان په هٰغه لخته باندې وهل اونکړي نو هم ماشوم د مجرم په توګه ولاړ دے، هٰغه وخت صرف د چوکې د راوړلو چې دا کومه وېره ده، دا خومره د تکليف وي۔

په دې سره لږ تصور اوکړئ چې مونږ د حشر په مېدان کښې ولاړ يو، لا حساب نۀ دے شوے، په دې کښې حُکم وشو: دوزخ راوړئ۔

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما فرمائي: د مخلوق سره وړومبے حساب خو به دا وي چې د حشر مېدان ته د دوزخ د راوړلو حُکم اوکړے شي۔ حضرت

جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام به د دوزخ داروغه حضرت مالِک عَلَيْهِ السَّلَام ته وفرمائي: اے مالِکه! د الله پاک حُکم دے، دوزخ راوړئ!

بيا دوزخ پۀ کوم کښې چې لوئي لوئي غرونه هم دي، لوئي لوئي وادی[درې] هم دي، دلته چې پۀ سړکونو باندې بلډوزرې رواني وي، کله چې بلډوزر روان وي نو زمکه خوزېږي، کله چې رېل ګاډے پۀ سپيډ سره تېرېږي نو داسې ښکاري چې لکه زلزله راغله، اوس سوچ اوکړئ چې کله دومره لوئي دوزخ د حشر مېدان ته راوړلے کېږي نو زمکه به د کوم حده پورې خوزېږي- اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: دومره لوئي دوزخ به پۀ 4 ښپو باندې ودرېږي (لکه څنګه چې دلته د ګاډو وغېره لاندې ټائرونه ولګولے شي او راښکلے کېږي، هم داسې به د دوزخ د راښکلو د پاره د هغې نه لاندې 4 لوئي لوئي پايې ولګولے شي) ❖ هره پايه به دومره غټه وي چې د 500 کالو پورې تېز رفتاره اَس منډې وهي نو د هغې پايې نه به وا نۀ وړي ❖ د يوې پايې نه به د بلې پايې پۀ مينځ کښې د 500 کالو مزل وي[1] ❖ **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** د دوزخ به 70 زره واګې وي، هر يو واګے به 70، 70 زره فرښتو نيولے وي او راښکې به يې[2] يعنې ټولې به 4 اربه 90 کروړه فرښتې دوزخ د حشر مېدان ته راوړي-

د دوزخ غړمبېدل

بيا چې به کله دوزخ راښکلے کېږي او راوړلے کېږي، لا به د حشر د مېدان نه د

---

[1]...سلوة العارفين، باب ا تيان جهنم الى المحشر، جلد:2، صفحه:312و313 ملتقطاً۔

[2]...مصنف ابن شيبه، كتاب ذكر النار، ماذكر فيما اعد لاهل النار و شدته، جلد:8، صفحه:90، حديث:1۔

100 كالو پۀ فاصله باندې وي، د دومره لرې نه به د محشر والا خلق دوزخ وويني- پۀ قرآنِ كريم كښې دي:

اِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّ زَفِيْرًا (پاره:18، سورۂ فُرْقَان:12)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ العِرفان: چې كله به هغه وور هغوئ ته د لرې ځائے نه كوري نو كافران به د هغې جوش وهل او غږمبدل اوري-

روايت دے: دوزخ به لا د مخلوق نه د 100 كالو پۀ فاصله وي، پۀ دې كښې به دومره تېزه لـمبه پېدا شي چې مخلوق به ترې ويرېږي- كله به چې بيا لـمبه پېدا شي نو مقربې فرښتې او نبي مرسَل به هم د عاجزۍ اظهار كوي ، بيا چې كله پۀ درېم ځل لـمبه ووهي نو د خلقو زړونه به د مرۍ پورې راشي او عقلونه به وېرېږي- (1)

د حضرت علاف بن خالِد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے: د دوزخ يوه حصه به بله حصه دننه خوري- دوزخ به يو داسې غږمبارے وكړي، د كومې پۀ اورېدو چې به هر نبي، هر صِدِّيق، پۀ زنګونانو زمكې له تشريف يوسي- د ټولو پۀ خُله باندې به صرف يوه خبره وي: نَفسِي نَفسِي يعني مولىٰ! ما اوبخښې، مولىٰ! ما ته اَمان را عطا كړې- خو قربان شم! پۀ اُمت باندې مهربانه آقا، محبوب مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه وخت هم اُمتي اُمتي نعرې وهي-

وہ پاک دِل کہ نہیں جس کو اپنا اَندیشہ ہجومِ فکر و تَرَدُّد میں گھر گیا ہو گا
ہزار جان فِدا نرم نرم پاؤں سے پُکار سُن کے اَسیروں کی دوڑتا ہو گا

[1]...حلية الاولياء، رقم:325، كعب الاحبار، جلد:5، صفحه:409، رقم:7546 بتغير قليل۔

ما اوبخښې او پۀ ما کرم اوکړې یا اللّٰه!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې دا د دوزخ د حشر مېدان ته د راوړلو منظر نامه ده، سوچ اوکړئ چې آه هٰغه وخت به د حشر پۀ مېدان کښې څنګه غوغاوي- مور، پلار، خور، ورور، دوست، یار، څوک به هم د چا طرف ته پام نۀ کوي ❖ نن چې کله ناڅاپه زلزله راشي، دېوالونه خوزېږي نو د مور سره خپل فِکر کم او د اولاد فِکر ډېر وي، مور د خپل فِکر کولو نه بغېر د ماشومانو طرف ته منډه کړي او هغوئ سینې ته راجُخت کړي ❖ کله چې تېز طوفان راشي، تنۍ برېښنا کېږي، د تندر اوازونه وي نو مور خپل وارۀ بچي سینې ته راجُخت کړي او ښه کلک یې د مینې نه ونیسي د پاره د دې چې ماشوم وه نۀ وېرېږي- آه! دا خو د ټولو زلزلو نه لویه زلزله ده، د ټولو وېرو نه لویه وېره ده، د ټولو ګڑګۍ ګانو نه لویه ګڑګۍ ده خو افسوس چې نن به مور هم پۀ خپل فِکر کښې وي، د چا سره به د چا فِکر نۀ وي- ټول خلق به پۀ خپل فِکر کښې وي- سوچ اوکړئ چې هٰغه وخت به زمونږه څۀ حال وي؟

بروزِ قِیامت ہو ایسی عنایت — رہوں پُل پہ ثابت قدم یاالٰہی!
جَلا دے نہ نارِ جہنّم کرم ہو — پیۓ بادشاہِ اُمم یاالٰہی!
مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے — ہو مجھ ناتواں پر کرم یااِلٰہی!
جو ناراض تُو ہو گیا تو کہیں کا — رہوں گا نہ تیری قسم یااِلٰہی!
سدا کے لیے ہو جا راضی خُدایا — ہمیشہ ہو لطف و کرم یااِلٰہی!
گناہوں سے بھرپور نامہ ہے میرا — مجھے بخش دے کر کرم یااِلٰہی! (1)

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:110 و 111 بتقدم و تأخر۔

وېرېږئ! د هٰغه وور نه---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دوزخ دے---!! د دې نه وېرېدل پكار دي- پۀ قرآنِ كريم كښې دي:

فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ (پارہ:1، سورۂ بَقَرہ:24)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ العِرفان: نو د هٰغه وور نه وېرېږئ چې د هغې خشاک اِنسانان او كانې دي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ دې آيت مبارک كښې د دوزخ وحشت بيان كړے شوے دے چې د دوزخ وور دومره خطرناک دے چې د هغه خَشَاک اِنسانان او كانې دي، زمونږ د دې دُنيا چې كوم وور دے دا كانې كرموي خو سوزوي يې نۀ خو د دوزخ وور داسې خطرناک دے چې كانې به هم سوزوي- [1] بيا ورسره ورسره پۀ دې آيت مبارک كښې صفا صفا حُكم شوے دے چې اے خلقو! د دوزخ نه وېرېږئ! او دوزخ ته د بوتلونكو اعمالو نه د بچ كېدو پوره پوره كوشش كوئ!

مَغْفِرت كا ہوں تجھ سے سُوالی — پھیرنا اپنے دَر سے نہ خالی
مجھ گنہگار كی اِلتجا ہے — یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے
نارِ دوزخ سے مجھ كو اماں دے — مَغْفِرت كر كے باغِ جناں دے
كر دے رحمت مری اِلتجا ہے — یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے[2]

---

[1]... تفسیرِ نعیمی، پارہ:1، سورۂ بَقَرہ، زیرِ آیت:24، جلد:1، صفحہ:225 ماخوذاً۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:136 ملتقطًا۔

د دوزخ عذاب ډېر سخت دے

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! بے شکه چې دوزخ داسې څۀ ځيز نۀ دے چې د هغه نه غفلت اوکړے شي، د دوزخ عذاب ډېر وحشت ناک دے۔ الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

وَ اَنَّ عَذَابِیْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِیْمُ

(پارہ:14، سورۂ حجر:50)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه هُم زما عذاب دردناک عذاب دے۔

پۀ يو بل ځائے کښې اِرشاد دے:

وَ لَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَ اَبْقٰى

(پارہ:16، سورۂ طٰهٰ:127)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه د اخرت عذاب د ټولو نه زيات سخت او د ټولو نه زيات باقي پاتې کېدونکے دے۔

*_*_*

گناہگار ہوں میں لائقِ جہنَّم ہوں — کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یارب
بُرائیوں پہ پَشیماں ہوں رَحم فرمادے — ہے تیرے قَہر پہ حاوی تری عطا یارب[1]

غرونه به پۀ زمکه ننوځي

يو ځل د فرښتو سردار حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام دربار رسالت ته حاضر شو، د هغوئي رنګ بدل شوے وو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: جبرائيله!

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:78۔

څۀ خبره ده؟ زۀ ستاسو رنګ بدل وينم؟ حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا وخت الله پاک د دوزخ د وور د لـمبه کولو حُکم کړے دے- رسولِ خُدا، احمد مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: جبرائيله! ما ته د دوزخ په باره کښې ووايه! حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! الله پاک دوزخ ته حُکم اوکړو نو د هغې وور د زر [1000] کالو پورې پۀ لـمبو وو، تر دې پورې چې وور سور شو، بيا د زرو [1000] کالو پورې لـمبه کړے شو، تر دې پورې چې هغه سور شو بيا د زرو [1000] کالو پورې لـمبه کړے شو، تر دې پورې چې هغه بالکل تور شو، اوس د دوزخ وور تور دے، نۀ پۀ هغې کښې سپرغټه رڼاکيږي، نۀ د هغې غرغنډې ختميږي، نۀ د دۀ لـمبې مړې کيږي، پۀ هٰغه ذات مې دې قسم وي! کوم چې تاسو رښتونے نبي راولېږلئ، که د ستنې د سورې برابر هم دوزخ پرانستے شي نو د زمکې والا به ټول فنا شي، پۀ هٰغه ذات مې دې قسم وي! کوم چې تاسو د حق سره راولېږئ! که د دوزخ د زنځيرونو يوه کړۍ د دنيا پۀ غرونو باندې کېښودے شي نو دا به ټوټې ټوټې شي او پۀ زمکه به ننوځي- [1]

خوف دوزخ کا آہ! رحمت ہو	خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَبّ!
میرا نازُک بدن جہنّم سے	از طفیلِ رضا بچا یارَبّ! (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... موسوعه ابن ابي الدنيا، صفة النار، جلد:6، صفحه:432، حديث:157 ملتقطًا۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:80۔

آه! زمونږ به څۀ کېږي---؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې روايت نه اندازه ولګوئ چې دوزخ څومره خطرناک دے که د ستن د سوري همره دوزخ پرانستے شي نو د زمکې والا به ټول د دې د تپ او ګرمۍ پۀ وجه فنا شي۔

الله! الله! د ستن سورے څومره وي؟ پۀ دې کښې تار اچول څومره ګران کار وي، دومره وړوکے شان سورے وي۔ چې د دومره وړوکي شان سوري برابر د دوزخ پرانستو سره دومره تباهي کېدے شي نو اندازه ولګوئ چې هٰغه بد نصيبه کوم چې به دې دوزخ ته غورځولے شي، آه! د دوزخ لمبې به د هغه پۀ بدن پورې انښلي، بدن به د دننه پورې وسږي او ايره به يې کړي، آه! د چا چې د سر نه واخله د ښپو پورې ټش وور وي، غور اوکړئ چې دا خطرناک وور به د هغه حال څنګه بے حاله کوي۔

راځئ چې د پۀ شريکه د ګنهګارانو د بخښوونکي آقا، د جَنَّت ورکوونکي آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دربار کښې فرياد اوکړو:

میں مجرم ہوں جہنّم میں اگر پھینکا گیا مجھ کو
ہلاکت ہو گی ہائے! کیا کروں گایارسولَ اللہ!
لپک کر آگ کے شعلے لپٹتے ہوں گے، بربادی
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
اندھیری آگ ہو گی، روشنی بالکل نہیں ہو گی
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!

وہاں کانوں میں، آنکھوں میں، دَہن میں پیٹ میں بھی آگ
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
فرشتے ڈانٹے ہوں گے، ہتھوڑے مارتے ہوں گے
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
وہاں سانپ اور بچھو بھی مسلسل ڈس رہے ہوں گے
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
غذا دوزخ کی تھوہر اور اُوپَر کھولتا پانی
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
نہ مانگے موت آئے گی، نہ بیہوشی ہی چھائیگی
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
جو تم چاہو گے تو ہوں گی مری سب مشکلیں آساں
وگرنہ نار میں، میں جا پڑوں گا یارسولَ اللہ!
تمہارا ہوں غُلامی اور ہے غُلامی پر مجھے تو ناز
کرم سے ساتھ جنّت میں چلوں گا یارسولَ اللہ(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:324۔

د دوزخ نه د بچ كېدو پوره كوشش كوئ!

د الله پاک خوږ او اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: (اے خلقو!) د جَنَّت د حاصلولو د پاره پوره پوره كوشش كوئ او پۀ پوره كوشش سره د دوزخ نه لرې تښتئ---! بے شكه د جَنَّت طلب كار چرې هم غافله كېږي نۀ، بے شكه د دوزخ نه تښتېدونكے چرې هم د غفلت پۀ خوب نۀ اودۀ كېږي، بے شكه اخرت د نا خوښه كارونو نه ډك دے (يعني پۀ اخرت كښې د كاميابۍ د پاره د نفس خواهشات پرېښودل وي) او دُنيا د خوندونو او خواهشاتو نه ډكه ده، بس د دُنيا دا خوندونه او خواهشات دې تاسو د اخرت نه هيڅرې هم غافله نۀ كړي- [1]

د دوزخ نه نجات وركوونكي اعمال

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! يقيناً چې د دوزخ عذابونه برداشت كول پۀ مونږ كښې د چا هم د وَس كار نۀ دے- اوس لا مونږ ژوندي يو، زمونږ ساه ګاني چلېږي، اوس موقع ده، راځئ چې نېک كارونه اوكړو، جَنَّت ته بوتلونكي، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا والا كارونه اوكړو- راځئ چې د دوزخ نه نجات وركوونكي يو څو اعمال پۀ دې نيت سره واورو چې هغه به باقاعده د خپل ژوند برخه جوړوو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

(1): د دوزخ نه د خلاصي دُعا كوئ!

د دوزخ نه د بچ كېدو او د نجات حاصلولو د پاره وړومبے عمل خو هم دا دے چې د

---

[1]... كنز العمال، كتاب المواعظ و الرقائق، الفصل العاشر، جز:15، جلد:8، صفحه:392، حديث:43591۔

دوزخ نه د بچ كېدو د پاره د الله پاک نه سوال اوكړے شي- **پهٔ حديثِ پاک كښې دي،** د الله اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د الله پاک نه درې كرته جَنَّت وغواړي نو جَنَّت وائي: اِلٰهی! دے جَنَّت ته داخِل كړې او څوک چې درې كرته د دوزخ نه پناه وغواړي نو دوزخ وائي: اِلٰهی! دهٔ له د وور نه امان وركړې-[1]

د دوزخ نه پناه پهٔ دې الفاظو سره هم غوښتلے شئ: يا الله! ما د دوزخ نه بچ كړې!-

گناہ گار ہوں میں لائقِ جہنم ہوں	کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یارب!
بُرائیوں پہ پشیماں ہوں رَحم فرمادے	ہے تیرے قہر پہ حاوی تری عطا یارب!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

سحر او مانښام د دوزخ نه د پناه غوښتو فضيلت

صحابئ رسول حضرت مسلِم بن حارِث رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته وفرمائيل: د سحر د نـمونځ نه پس د خبرو كولو نه مخكښې دا كلمات: اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِیْ مِنَ النَّار (اے الله! ما د دوزخ د وور نه بچ كړې) 7 كرته لوله - كه تهٔ پهٔ هٰغه ورځ مړ شوې نو الله پاک به ستا د پاره د دوزخ نه امان وليكي- دغه شان د مانښام د نـمونځ پس د خبرو كولو نه مخكښې دا كلمات 7 كرته لوله: اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِیْ مِنَ النَّار (اے الله! ما د دوزخ د وور نه بچ كړې) 7 كرته لوله، بيا كه تهٔ پهٔ دغه شپه مړ شوې نو الله پاک به ستا د

[1]... ترمذی، کتاب صفة الجنة، صفحه:605، حدیث:2572۔

پاره د دوزخ نه امان ولیکي۔ [1]

(2): تقویٰ اختیار کړئ!

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

ثُمَّ نُنَجِّی الَّذِیْنَ اتَّقَوْا (پارہ:16، سورۂ مریم:72)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بیا به مونږه وېرېدونکي بچ کړو۔

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ دې آیت مبارک کښې ووئیلے شو چې د قیامت پۀ ورځ هم ټولو ته د دوزخ (یعنې پل صراط)د پاسه تېرېدل دي، هغه وخت به نجات هغه خلق حاصلوي کوم چې د تقویٰ والا، پرهېزګاره دي۔

تقویٰ څۀ ته وئیلے کېږي؟

تقویٰ د ګناهونو نه د بچ کېدو نوم دے، حضرت سَهل بن عبد الله تستري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: کوم ګس چې غواړي چې د هغه تقویٰ صحیح شي، هغه دې ټول ګناهونه پرېږدي۔ [2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! تقویٰ والا یعنې د ګناهونو نه بچ کېدونکي به د قیامت پۀ ورځ نجات موندونکي وي، مونږ له پکار دي چې مونږ هم تقویٰ اِختیار کړو، د ګناهونو نه بچ شو، هیڅکله هم نـمونځ نۀ قضا کوو، روژې هم پوره نیسو، زکوٰۃ هم

---

[1]... ابو داؤد، کتاب الادب، صفحه:793، حدیث:5079 بتقدم وتآخر۔

[2]... رساله قشیریه، تقوی کا بیان، صفحه:219۔

پوره ورکوو، د فلمونو ډرامو، بے پردګۍ وغېره وغېره ګناهونو نه ځان ساتو نو اِنْ شَآءَاللّٰه اَلْکَرِیم! د دُنیا ژوند به مو هم ښه تېرېږي او په اخرت کښې به مو هم د نجات خېرات نصیب شي- اِنْ شَآءَاللّٰه اَلْکَرِیم!

گناہوں سے مجھ کو بچا یا الٰہی! | بُری عادتیں بھی چھُڑا یا الٰہی!
خطاؤں کو میری مِٹا یا الٰہی! | مجھے نیک خصلت بنا یا الٰہی!
تجھے واسطہ سارے نبیوں کا مولا | مری بخش دے ہر خطا یا الٰہی! (1)

(3): د الله پاک د وېرې نه اوښکې توئیوئ!

یو ځل یو صحابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دربار رسالت ته حاضر شو او عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ د کوم څیز په ذریعه د دوزخ نه نجات حاصلولے شم؟ رسولِ رحمت، شفیعِ اُمت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: د خپلو سترګو د اوښکو په ذریعه- عرض یې اوکړو: هغه څنګه؟ وه یې فرمائیل: د الله پاک د وېرې نه ژړېږه! ځکه چې کومه سترګه د الله پاک د وېرې نه ژاړي ، هغې له به د دوزخ عذاب نۀ وي- (2)

یارب! میں ترے خوف سے روتا رہوں ہر دَم
دیوانہ شہنشاہِ مدینہ کا بنا دے (3)

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:100۔

[2]...الترغیب والترہیب، کتاب التوبۃ والزہد، صفحہ:1040، حدیث:9۔

[3]...وسائلِ بخشش، صفحہ:119۔

د دوزخ نه محفوظه سترګه

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روايت دے، مكي مدني سركار، د زړونو قرار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: دوه قِسمه سترګو ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې كېږي: (1): هٰغه سترګه كومه چې د شپې پۀ څۀ حصه كښې د الله پاک د وېرې نه وژاړي (2): او دوېمه هٰغه سترګه كومه چې د الله پاک پۀ لار كښې پۀ خوكې كولو شپه تېره كړي-[1]

د الله پاک د وېرې نه د ژړېدو عادت څنګه جوړول پكار دي؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې د الله پاک د وېرې نه ژړېدل د دوزخ نه بچ كوونكے عمل دے، كاش چې زمونږ هم خالص د الله پاک د رضا د پاره د الله پاک د وېرې پۀ وجه ژړېدل نصيب شي-

روزانه پۀ تنهايۍ كښې كه كېدے شي نو هديرې ته ځۀ او سترګې پټوۀ او كښېنۀ، خپله كمزورې او بے وسي پۀ خيال كښې راولۀ، خپل ګناهونه يادوۀ او سوچ كوۀ چې ❖ آه! كه پۀ ګناهونو راګېر كړے شوم، الله پاک زما نه ناراضه شو نو زۀ به څۀ كووم؟ ❖ آه! دېر زر به حضرت ملكُ المَوت عَلَیْہِ السَّلَام تشريف راوړي، زما رُوح به قبض كولے شي، بيا به زر زما دوستان خپلوان غسل راكړي، كفن به راته واچوي او د جنازې كولو نه پس به مې تيارۀ قبر ته كوز كړي، داسې تنګ كور، داسې تنهائي، وېره، سخته تيارۀ چې چرې به مخكښې د دې تجربه نۀ وي شوې، لا به د مرګ تكليفونه هم نۀ وي كم شوي چې د قبر

---

[1]... ترمذی، كتاب الجهاد، صفحه:416، حدیث:1639۔

وحشت---! او لا دا وحشت به نۀ وي لرې شوے چې مُنکر نَکِير به تشريف راوړي، آؤ! آؤ! پۀ قبر کښې به اِمتحان وي، افسوس! ډېر افسوس! که زۀ پۀ خپلو ګناهونو راګېر کړے شوم او پۀ قبر کښې پۀ اِمتحان کښې ناکامه شوم نو زما به څۀ کېږي؟ ❖ آه! که د قيامت پۀ ورځ پۀ ګناهونو باندې راګېر کړے شوم، خُدائے دې نۀ کړي که زۀ دوزخ ته وغورځولے شوم نو زما به څۀ کېږي---؟ ❖ هيۡ! هيۡ! هٰغه د دوزخ خطرناکې سزاګانې، د هٰغه ځائے لوئي لوئي ماران، د بختي(تيزرفتاره او طاقتور)اوښانو پۀ شان لړمانان، ډېر تېز وور کوم چې به دننه وجود هم سېزي، آه! که زما معافي نصيب نۀ شوه، د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت نه هم محرومه شوم او زۀ دوزخ ته وغورځولے شوم نو زما به څۀ کېږي---؟؟

دِل ہائے گناہوں سے بیزار نہیں ہوتا | مَغلوب شَہا! نفس بَدْکار نہیں ہوتا
اے ربّ کے حبیب آؤ!اے میرے طبیب آؤ | اچھا یہ گناہوں کا بیمار نہیں ہوتا
گو لاکھ کروں کوشش اِصلاح نہیں ہوتی | پاکیزہ گناہوں سے کِردار نہیں ہوتا
یہ سانس کی مالا اب بس ٹوٹنے والی ہے | دل آہ! مگر اب بھی بیدار نہیں ہوتا[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! داسې که خپل ګناهونه ،قبر او اخرت پۀ سوچ کښې راولئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د الله پاک د وېرې نه به مو زړۀ پۀ ريېدو شي او پۀ سترګو کښې به مو اوښکې هم راشي-

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:163 ملتقطاً۔

الله پاک دې زمونږ د الله پاک د وېرې نه ژړېدل نصیب کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(4): د ثواب پۀ نیت باندې اذان کوئ

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روایت دے، مالِک او مختار، د دواړو جهانو تاجدار، د زړونو قرار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چا چې د ثواب د پاره د 7 کالو پورې اذان اوکړو، د هغه د پاره د دوزخ نه نجات لیکلے کېږي۔ [1]

سُبْحٰنَ اللّٰہ! معلومه شوه چې د الله پاک د رضا د پاره اذان کول هم د دوزخ نه بچ کوونکے عمل دے۔ کاش چې مونږ د اذان سعادت حاصلوونکي جوړ شو، اذان کول څۀ ګران کار خو نۀ دے، مونږ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! مسلمانان یو، هم د ماشومتوب نه اذانونه اورو، پۀ ټول اذان کښې صرف 15 کلمات دي، دا کلمات پۀ ښه طریقه یاد کړئ او یو عاشقِ رسول قاري صاحب ته یې واوروئ! بیا وخت پۀ وخت صرف د الله پاک د رضا د پاره پۀ جومات کښې اذان کوئ، که الله پاک وغوښتل نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! دپر ثوابونه به حاصل کړئ او د دوزخ نه به مو نجات هم نصیب شي۔

(5): د جَمعې سره د نـمونځ بندوبست کوئ

د صحابئ رسول، حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے، د مدینے تاجدار، د زړونو قرار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې د الله پاک د رضا د پاره 40 ورځې د

---

[1]... ابن ماجه، کتاب الاذان، صفحه:125، حدیث:727۔

تكبيرِ اولىٰ سره د جَمعې سره نـمونځ اوكړي، د هغه د پاره دوه ازادۍ ليكلے شي: (1): يوه ازادي د نار (يعني دوزخ) نه او (2): دويمه ازادي د نفاق نه-[1]

ميں پانچوں نَمازيں پڑھوں باجماعت	ہو توفيق ايسى عطا يااٰلٰہى!
ميں پڑھتا رہوں سنتيں، وقت ہى پر	ہوں سارے نوافل ادا يااٰلٰہى! (2)

(6): د شروع او د زيارت د ورځې روژه نيسئ!

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د شروع او د زيارت د ورځې روژه ونيسي، د هغه د پاره د دوزخ نه ازادي ليكلے كېږي- [3]

(7): د مسلمان ورور حاجت پوره كول

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما نه روايت دے، رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د خپل ورور د حاجت پوره كولو د پاره روان شي او د هغه سره همدردي اوكړي نو الله پاک به د هغه او د دوزخ ترمينځه 7 خندقونه جوړ كړي، پۀ هغې كښې به د هر خندق د بل نه دومره فاصله وي، څومره چې د زمكې او د اسمان ترمينځه ده- [4]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له هم پكار دي چې ❖ مونږ د دوزخ نه د بچ

---

[1]... ترمذی، كتاب الصلاة، صفحه:78، حديث:241۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:102۔

[3]... مسند ابي يعلىٰ، مسند عبد الله بن عمر، جلد:4، صفحه:329، حديث:5629۔

[4]... موسوعة امام ابن ابي الدنيا، كتاب قضاء الحوائج، جلد:4، صفحه:168، حديث:35۔

کېدو او جَنَّت ته د تللو د پاره د خپلو مسلمانانو وروڼو سره همدردي کوو ❖ د هغوئي پۀ کار راځو ❖ که چا ته د قرض ضرورت وي نو د خپل وَس مطابق قرض ورکوو ❖ پۀ غريبانو باندې خرچ کوو، وږي مړوو ❖ دغه شان د عزيزانو خپلوانو هم پۀ کار راځو ❖ د ګاونډيانو هم پۀ کار راځو ❖ د دوستانو هم پۀ کار راځو ❖ غرض دا چې د کوم مسلمان هم څۀ جائز حاجت وي، مونږ د خپل وَس مطابق صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره د هغه مدد کوو، د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! الله پاک مونږ د دوزخ نه بچ کړي او جَنَّت ته به مو داخِل کړي-

شفاعت به مېلاؤېږي

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهما نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د خپل مسلمان ورور حاجت پوره کړي، زۀ به د قيامت پۀ ورځ د هغۀ د ميزان سره ولاړ يم، که د هغه د نېکۍ والا چابړے دروند وو نو ټيک ده، ګنې زۀ به د هغه شفاعت کووم- [1]

شَفاعت حشر میں فرماؤ گے جب خوش نصیبوں کی
مجھے کر لینا آقا اُن میں شامل یارسولَ الله

الله پاک هٰغه زړۀ له عذاب نۀ ورکوي

د حضرت ابو اُمامه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی

---

[1]... حلية الاولياء، مالک بن انس، جلد:6، صفحه:389، رقم:9038۔

ﷺ فرمائيلي دي: قرآن لولئ! بے شكه كوم زړۀ چې د قرآنِ كريم جزدان[كڅوړه] وي، الله پاک هٰغه زړۀ له عذاب نۀ وركوي- [1]

فلموں سے ڈراموں سے دے نفرت تُو الٰہی! | بس شوق مجھے نعت و تلاوت کا خُدا دے [2]

د سورۀ السجده بركت

حضرت حسن بن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت ثابت بناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل د حضرت مُطَرِّف بن عبد الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا له د تپوس دپاره لاړو، هٰغه وخت حضرت مُطَرِّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بے هوشه وو، حضرت ثابت بناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وليدل چې د بے هوشۍ پۀ حالت كښې د حضرت مُطَرِّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د نُور درې شعلې پورته كېږي، يو د سر نه، بله د خِټې نه او دربمه د ښپو د طرف نه- فرمائي چې د دې پۀ ليدلو مونږ وېرېدو، كله چې هغوئي لږ ټيک شو نو مونږ عرض اوكړو: مونږ ستاسو د سر، خِټې او د ښپو د طرف نه د نُور پورته كېدونكې شعلې وليدلې- حضرت مُطَرِّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: آيا واقعي چې تاسو داسې ليدلي دي؟ عرض مو اوكړو: آؤ جي! پۀ دې باندې حضرت مُطَرِّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: دا د سورۀ السَّجده د تِلاوت بركت دے- د دې سُورت مبارک 30 آيتونه دي، وړومبي 10 آيتونه د سر د طرف نه، مينځني 10 آيتونه، د مينځ نه او اخري 10 آيتونه د ښپو د طرف نه پورته كېږي او زما يقين دے چې دا به زما شفاعت هم كوي- [3]

---

[1]... جامع صغير، صفحه:83، حديث:1340۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:114۔

[3]... تاريخ دمشق، مطرف بن عبد الله، جلد:58، صفحه:334۔

الله پاک دې مونږ ته هم د قرآنِ پاک د ښه ډېر تلاوت کولو توفیق راعطا کړي- کاش چې د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت پۀ وسیله د دوزخ نه بچ کېدل او پۀ جَنَّتُ الفِردوس کښې د خورِ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ ته رسېدل زمونږ نصیب شي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

دارُ الـمدینه انټرنیشنل اِسلامک سکول سسټم

خورِو او محترمو اِسلامي ورونو! دعوتِ اِسلامي د دِیني علومو سره سره د دُنیائي عِلم پۀ ذریعه هم د معاشرې د کامیابیِ کارونه کوي، د عاشقانِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د انتظام لاندې یوه اهمه تعلیمي شعبه: **دارُ الـمدینه انټرنیشنل اِسلامک سکول سسټم** جوړه کړے شوې ده- د کومې مقصد چې د دِیني قدرونو سره سره پۀ جدید تقاضو پوره معیاري تعلیم ورکول دي-

د الله پاک پۀ فضل او کرم سره دارُ الـمدینه انټرنیشنل اِسلامک سکول سسټم پۀ کمه موده کښې ډېره ترقي کړې ده- اوسه پورې پۀ ملک او بهر ملکونو کښې **د 175 نه زیات** کېمپسز پۀ کامیابیِ سره جوړ کړے شوي دي، چرته چې **د 41 زرو نه زیات زنانه او نارینه طالبِ علمان** تعلیم حاصلوي او د یو منظم، عزت مند او هر اړه خیز تعلیمي ماحول نه فائدې حاصلوي- نور د تعلیمي ترقيِ د دې سفر د وړاندې بوتللو سره پۀ کال **2024ء** کښې پۀ اسلام آباد کښې **دار الـمدینه انټرنیشنل یونیورسټي** باقاعده جوړه کړے شوه، کومه چې د اعلیٰ تعلیم پۀ مېدان کښې یو ډېر اهم حېثیت لري-

الله پاک دې د دعوتِ اِسلامي دې تعليمي شعبې ته مزيد ترقي عطا کړي او مونږ ته دې د دې نه د پوره فائدې اخستو توفيق را عطا کړي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مياشت د قافله

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دعوت اسلامي يو ځلې بيا نمانځې :د15 اکتوبر نه تر 15 نومبر پورې مياشت د قافلې.

پۀ کومه کښې چې به د ټول ملک نه عاشقان رسول پۀ12مياشتو،يوه مياشت،12ورځو او 3ورځو قافلو کښې شرکت کوي.ياد ساتئ!د نيکۍ دعوت ورکول او پۀ دې لاره کښې مشقت برداشت کول د انبياؤ سنت دي،انبيائے کرام،صحابۀ کرام،نيک خلق به د خپلو کورونو نه وتل،لرې لرې علاقو ته به تلل،هجرتونه به يې کول،تکليفونه به يې برداشت کول او د دين پيغام به يې عام کولو،د مخکښينو خلقو پۀ قربانو مونږ ته دا دين رارسيدلے دے.

تاسو هم پۀ مياشت د قافلې کښې د سفر کولو نيت وکړئ!که کيدے شي نو هم نن خپل نيت وليکئ!اِنْ شَآءَ اللّٰه الْكَرِيْم!دير برکتونه به ميلاؤ شي، پۀ قافله کښې فرض علم دين ښودلے شي، سنت ښودلے شي، د تهجدو کولو سعادت ميلاويږي ،د نيکۍ د دعوت عام کولو موقع ميلاويږي ،د قافلې پۀ برکت سره دعاګانې قبليږي،مشکلات لرې کيږي،د بيماريانو نه د شفا ميلاويدو پۀ سلګونو واقعات دي،داسې هم شوي دي چې پۀ قافله کښې د سفر کوونکو د ډاډګيرنۍ دپاره خوږ آقا،مکي مدني مصطفي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے او پۀ خوب کښې يې ورله تشريف راوړے او د قافلې شرکاؤ له يې د ديدار

جامونه ورکړي. الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق را کړي. اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلوو- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

اِسلامک سپیچز موبائل ایپلي کېشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** نن سبا د ټېکنالوجي دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اسلامي د سمارټ فون (***Smartphone***) په ذریعه هم د عِلمِ دِین عام کولو کوشش کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ایپلي کېشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې یو موبائل ایپلي کېشن اسلامک سپیچز هم دے، دا یو ځانګړے موبائل ایپلي کېشن دے، د کوم په ذریعه چې تاسو د دعوتِ اِسلامي ❖ هفته وار ❖ د جُمعې ❖ او د مختلف ایونټس نوي او زاړۀ بیانونه په اسانۍ سره حاصلولے شئ ❖ دا بیانونه یواځې په اُردو ژبه کښې نۀ بلکې په انګلش، سندهي، پښتو، بنګالي ژبو کښې هم موجود دي ❖ تاسو دا بیانونه لوستلے هم

---

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

شئ او په دې ایپلي کېشن کښې دا بیانونه په آډیو کښې اورېدے هم شئ ❖ د بیانونو د لټولو سهولت هم پکښې موجود دے د کوم په ذریعه چې تاسو په اسانۍ سره د خپلې خوښې بیان لټولے شئ ❖ تاسو د خپلې خوښې بیانونه فیورټ کولے او محفوظ کولے هم شئ۔

هم نن دا ایپلي کېشن په خپل موبائل کښې ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

یو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❖ د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په **مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي په ورځ به هم په مَدَني چینل د ماسخوتن د نـمونځ نه پس تقریباً 8:00 بجې اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! هفته واره مَدَني مذاکره کېږي، په کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❖ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې **دیني رسالې** لوستلو ترغیب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **وړومبے یې تله بیا خبره کوه (د خبرو کولو اداب قسط :9))** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل مېډیا مثلاً واټس اپ وغیره استعمالوي هغوئ دې د الله پاک د

رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر (Share) کړي! ❖ مکتبة المدينه د نېکۍ د دعوت، د قرآنِ کريم د تفسير د پېغام عام کولو او د عاشقانِ رسول زړونه پۀ عشقِ رسول روښانه کولو پۀ نيت سره د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پوره تفسير نورُ العرفان د کمو او زياتو 786 اهمو خبرو (POINTS) کتاب پۀ نوم د فيضان نور العرفان چاپ کړے دے- دا کتاب د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پۀ 200 روپۍ پۀ بېغه حاصل کړئ، پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

نوټ:د خپلو مرحومينو د ايصال ثواب او د ښادۍ پۀ موقع باندې د مکتبة المدينه د کتابونو او رسالو استعمال لګولو دپاره پۀ دې نمبر باندې رابطه وکړئ .

0313-1139278

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! | جنّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

د نوم کېښودو سُنَّت او آداب

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: د قيامت په ورځ به تاسو په خپلو او ستاسو د پلارانو په نومونو رابللے شي لهذا خپل ځان له ښه نومونه ږدئ۔ [1]

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** علمائے کرام ليکي چې: ماشوم له ښه نوم کېښودل پکار دي د ډېرو خلقو داسې نومونه دي د کومو چې څۀ معنې نشته يا د هغې بدې معنې دي د داسې نومونو کېښودو نه ډډه اوکړئ ❖ د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام او د صحابۀ کرامو او تابعينو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم په نومونو باندې نومونه کېښودل بهتره خبره ده، اُمېد دے چې د هغوئ برکت به په ماشوم کښې کېښودے شي ❖ که ماشوم ژوندے پېدا شي او که مړ، د هغه بدن که پوره وي او که نۀ، بهر حال د هغه نوم کېښودل پکار دي ❖ **په حديثِ پاک کښې دي**: د ګڅه ماشوم (يعنې د کوم ماشوم چې کوم اندام جوړ شي يا په خِپته کښې د څلورو مياشتو شي د هغه) نوم ږدئ الله پاک به د هغه په ذريعه باندې ستاسو د عمل تَله درَنه کړي ❖ جبريل يا مېکائيل وغېره نوم مۀ ږدئ ❖ ياسين يا طٰهٰ نوم کېښودل منع دي ❖ محمد ياسين نوم هم مۀ ږدئ، آؤ که چرې وغواړئ نو غُلام ياسين او غلام طٰهٰ نوم کېږدئ ❖ کوم نومونه چې غلط وي هغه بدلول پکار دي او ښه نوم کېښودل پکار دي ځکه چې د خپل اُمَّت سره محبت کوونکي خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به غلط نومونه په ښو نومونو سره بدلول- د يوې زنانه نوم عاصِيَه (**د عين او صاد سره** يعنې ګنهګاره) وو، رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې نوم بدل کړو او جميله يې کېښودلو- (يو نوم آسيه **د الف مده او سين سره** هم کېښودلے شي، دا ښه نوم دے، په کېښودو کښې يې هيڅ

---

[1] ...ابو داؤد، کتاب الادب، باب: فی تغییر الاسماء، صفحه: 775، حدیث: 4948۔

باک نشته) ❖ داسې نومونه کېښودل جائز نۀ دي کوم چې د غېر مسلمو د پاره خاص وي ❖ غُلام رسول، غُلام صديق، غُلام حُسَين، غُلام غوث، غُلام رضا نوم کېښودل جائز دي ،داسي نومونه کيښودل جائز نۀ دي کوم چې د غير مسلمو سره خاص وي۔[1] د نوم کېښودو مختلف قسمه احکام،احتياطونه، مسائل او ډير قسمه نوي نوي نومونه او د هغې معاني پيژندلو د پاره د مکتبة المدينه کتاب : نام رکھنے کے احکام۔ د مکتبة المدينه نه حاصل کړئ! يا يې د دعوت اسلامي د ويب سائټ www.Dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ پخپله يې هم ولولئ! او نورو له هم ترغيب ورکړئ!

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شېخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَہ د 91 صفحو رساله 550 سنتيں اور آداب واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو	سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو	جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]...550 سنتيں اور آداب، صفحه:6863 ملتقطاً۔

د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې

لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِک عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعې او زيارت ډۀ مينځنی شپه باندې) دا دُرُود شريف ډۀ پابندیَ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ ډۀ وخت كښې د مَدَنې آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې مَدَنې آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږ هم ډۀ شريكه دا دُرُود ووائيو.

﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې مَدَنې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي كه ولاړ وي نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وي نو د ودريدلو نه مخكښې به د هغۀ ګُناهونه مُعاف كړے شي.[2] راځئ چې مونږ هم ډۀ

---

[1]... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحہ: 151، خلاصۃً۔

[2]... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحہ: 65۔

شريكه دا دُرُود ووائيو.

﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پۀ هغۀ به د رَحمت اويا دروازې برسيره كړے شي. [1] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريكه ووائيو.

﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِى رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرگانو نه نَقل كوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. [2] راځئ چې پۀ شريكه يې ووائيو.

﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، پۀ دې باندې صَحابَۀ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې كله هغه لاړو نو حضور صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم وفرمائيل: دے چې كله پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې يې لوَلي. [3] راځئ چې مونږ يې هُم پۀ شريكه

1...قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانی، صفحه:277۔

2...اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

3...قَوْلُ البَدِيْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

ووائيو.

﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغۀ د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريكه ووائيو.

﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيكى:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰه عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيكى ليكي.[2] راځئ چې مونږ يې هُم پۀ شريكه ووائيو.

﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر يې چې حاصل كړو

د خورِ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا دري ځله ولوستله نو لكه هغۀ چې شبِ قدر حاصل كړو-[3] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پۀ شريكه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

(د حِلم او كرم كوونكي **الله** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **الله** پاک دے، د

1...الترغيب والترہيب، كِتَابُ الذِّكْرِ والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30۔

2...مَجْمَعُ الزَّوَائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

3...تاريخ ابنِ عساكر، 155/19، حديث:4415

اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد